**مطبوعاتي اعلاميه**

**بې انصافه او ظالم رژيم د الابياد زده کوونکو لپاره د ډوډۍ برابرولو وس نه درلود، خو په مرميو د هغوی ویشتلو او وژلو ته چمتو و.**

**(ژباړه)**

د الابياد ښار زده کوونکي په سوډان کې د ناوړه حالت په ځانګړي ډول د ډوډۍ او ټرانسپورټ د کمښت پر وړاندې له ښوونځيو څخه بهر لاريون ته راووتل. د واکمن رژيم ځواکونو پر دغو زده کوونکو په چارو کې د والي د ناغېرۍ په اعتراف ډزې وکړې، پنځه کسان يې ووژل او په لسګونه نور يې ژوبل کړل. لاريونونه د سوډان په پلازمېنه خرطوم کې پيل شول. په سوډان کې نور ښارونه د الابياد دغه پېښه غندي او د دغه ظلم ترسره کوونکو ته د جزا غوښتنه کوي.

له همغه وخته اقتصاد او خدمتي حالت خراب شو، کله چې خلک د دغه رژيم پر وړاندې راووتل. دغو کسانو د عدالت او غوره ژوند غوښتنه کوله، خو دوی له بې عدالتۍ، وژلو، تاوتريخوالي او ځورېدو سره مخ شول. د دې تر څنګ د خوراکي او نورو توکو بيې لوړې شوې، د خوړو او په ځينو حالاتو کې د نوور توکو له کمښت سره مخ شول.

د ډوډوۍ د کمښت او د سوډان په ټولو ښارونو کې د ټرانسپورټ لپاره لوړې تعرفې سربېره، په ځانګړي ډول په پلازمېنه خرطوم کې دغه حالت مخ په ډېرېدو دی.

دغه هرڅه هغه وخت پېښ شول کله چې د اختلاف د دواړو لورو (نظام او د بدلون خپلواکو ځواکونو) تر منځ خبرې په کور دننه او بهر بې پايلې پاتې ته ورسېدې او له ماتې سره مخ شوې. دواړو لورو د واک په لاس کې .اخيستلو غوښتنه کوله

کله چې په الابياد او نورو سيمو کې قهرجن ځوانان د لاريون په موخه راوځي، نو د دوی برخليک دا دی چې په ګوليو ويشتل کېږي، اوښکې بهوونکی ګاز وربانديې کارول کېږي او په سوټيو وهل کېږي. د بدلون او ازادۍ ځواک او ځينې نور سياسي ځواکونه د وينو په بيه ظلم کوي او د سوډان خلک ټپيانوي. همدارنګه هر وخت له دوی نه ګټه اخلي، تر څو د خپلو ګټو لپاره پر يادو حزبونو او خلکو فشار راوړي.

موږ د حزب التحرير- ولايه سوډان د بې دفاع او بې ګناه خلکو د وينو تويولو له پايلې د جونتا نظامي ځواکونو ته خبرداری ورکوو ، چې الله سبحانه وتعالی د بې ګناه کسانو وژل حرام کړي دي.

[وَمَن يَقْتُلْ مُؤْمِناً مُّتَعَمِّداً فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِداً فِيهَا وَغَضِبَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَاباً عَظِيماً]

[نساء: 93]

*ژباړه: څوک چې په قصدي توګه یو بې ګناه انسان وژني، نو جزا یې دوزخ دی او هلته به تل مېشت وي او د الله لعنت او عضب به ورباندې وي او ده به ډېر لوی عذاب وي..*

موږ همدارنګه د بدلون او ازادۍ غواکونو او د نورو سیاسي ډلو غواکونو ته، چې د غوانانو پر وینو باندې د ډېرې کوچنۍ ګټې لپاره سوداګري کوي خبرداری ورکوو، چې تش مدني نظام هېڅ شرعي بنسټ نه لري او همدارنګه اسلامي نظام نه مدني نظام دی او نه هم پوځي، بلکې راشده خلافت دی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر منهج جوړېږي، لکه څنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«كَانَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ تَسُوسُهُمْ الْأَنْبِيَاءُ كُلَّمَا هَلَكَ نَبِيٌّ خَلَفَهُ نَبِيٌّ وَإِنَّهُ لَا نَبِيَّ بَعْدِي وَسَتَكُونُ خُلَفَاءُ تَكْثُرُ»قَالُوا: فَمَا تَأْمُرُنَا؟ قَالَ: فُوا بِبَيْعَةِ الْأَوَّلِ فَالْأَوَّلِ وَأَعْطُوهُمْ حَقَّهُمْ فَإِنَّ اللَّهَ سَائِلُهُمْ عَمَّا اسْتَرْعَاهُمْ»

*ژباړه: بني اسراییل د خپلو انبیاوو له لارې سرپرستي کېدل؛ کله به چې یو نبي مړ شو، پر ځای به یې بل راغلی. تر ما وروسته بل نبي نشته او خلفاء به وي او ډېرېږي به [یو پر بل پسې به راځي] . دوی له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه، نو هغه وخت موږ څه وکړو؟ ده وویل، تاسو له هغه سره بیعت وکړئ، دوی ته خپل حق ورکړئ. ځکه الله سبحانه وتعالی به له دوی څخه د خپل مسوولیت پوښتنه وکړي.*

دا یوازې مشروع نظام دی چې اسلام موږ ته پرېښی دی او دا یوازینی نظام دی چې د بې ګناه خلکو وینې نه تویوي او درناوی ورته لري. د مجرمینو مخه نیسي او د مسلمانانو پر سپڅلو ځایونو له تیري څخه مخنیوی کوي. همدارنګه خلکو ته غوره او په عدالت کې ژوند ور په برخه کوي.

[فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَايَ فَلا يَضِلُّ وَلا يَشْقَى * وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكاً]

[طه: ۱۲۳-۱۲۴]

ژباړه: هر څوک چې زما د لارښوونو پیروي وکړي، نه به لاروکی شي او نه به وځورېږي او هر څوک چې زما له لارې مخ ولاړوي، سخت او تنګ ژوند به ولري

**ابراهیم عثمان ابو خلیل**

**د حزب التحریر ـ ولایه سوډان رسمي ویاند**

**د صدرو ګڼه: ٦٢/١۴۴٠**

**١۴۴٠هـ.ق د ذولقعدې ٢٧مه**

**٢٠١٩م د جولای ٣٠مه**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**